څوک چې (نجومي زده کړه کوي)، هغه په حقیقت کې داسې ده لکه د سحر یوه برخه چې زده کوي، نو څومره یې چې زیاته زده کړه کوي په همغه اندازه یې د سحر د زده کړې کچه زیاتیږي

له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمایلي: «څوک چې (نجومي زده کړه کوي)، هغه په حقیقت کې داسې ده لکه د سحر یوه برخه چې زده کوي، نو څومره یې چې زیاته زده کړه کوي په همغه اندازه یې د سحر د زده کړې کچه زیاتیږي».

[صحیح دی] [ابو داود ابن ماجه او احمد روایت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم بیانوي چې چا د علم نجوم او برجونو پېژندلو زده کړه وکړه او د ځمکې په پېښو کې یې د هغوی په خوځښتونو، ننوتلو، وتلو د اغیزې استدلال وکړ لکه: د فلاني مړینه، ژوند، ناروغي او داسې نور شیان چې په راتلونکي کې به پېښ شي، نو په حقیقت کې یې د جادو یوه برخه زده کړې ده، او دا چې یو څوک هر څومره دا زده کړه زیاته کوي؛ په همغومره اندازه یې د جادو زده کولو کچه زیاتیږي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/5989